## دویمه برخه

نوټ: د ویمې او دریمې برخې دپاره وخت دوه گهنټې او شلوېښت منټه دے.

سوال۲: په لاندینی جزونو کښې د نهه (۹) سوالونو مختصر ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابرې دی.

۱. د یثرب مزکې ته ولې دومره عزت حاصل دے؟
۲. په خطبه حجة الوداع کښې د انسانانو دپاره کوم سبق دے؟
۳. حضرت اسماعیل علیه السلام سره څهٔ واقعه پېښه شوې وهٔ؟
۴. په سوات کښې اسلامې دور کله راغلې وهٔ او چا راوستې وهٔ؟
۵. بادشاه طبیب سره څهٔ سلوک وکړو؟
۶. د میرټون ډرامې نه تاسو څهٔ سبق اخلئ؟
۷. د اهرام مصر حالت څنګه وهٔ او دا دنیا په څو عجائبو کښې شمېر دی؟
۸. ماسټر عبدالکریم په خپل تکل کښې کومې کومې پانې یادې کړې دي؟
۹. په دود دستور اداره د خپلې خوښې څلور ټپې ولیکئ؟
۱۰. د پاکستان قومونه د یو بل سره په کومه رشته تړلي دي؟
۱۱. په حضرت بلال ﷺ به چې خپل آقا کوم ظلمونه کول هغه په خپل ټکیو کښې اولیکئ؟
۱۲. د لاندینو ټکو متضاد ولیکئ؟ سحر، تیاره، سپرلي، روان

## دریمه برخه

نوټ: په لاندینی سوالونو کښې د دریو سوالونو ځوابونه اولیکئ. د هر سوال نمبرې برابرې دی.

سوال3: لاندینی عبارت په آسانه وروانه پښتو کښې اولیکئ.

شپې شپې جنګې په لوړو لوړو مانو ریږدې، وطن ازاد شوي وهٔ او اولس د خپلو زیارتو سبا منتظر وهٔ. سردریاب خاموش روان وهٔ، د خدائي خدمتګار مرکز وران پروت وهٔ او قوم پرست پښتانهٔ د زندان تیارو کښې ورک پراتهٔ وو.

(یا)

د سید محمد تقویم الحق کاکاخیل په خدماتو رڼرا واچوئ.

سوال4: د لاندیني شعرونو تشریح په آسانه پښتو کښې اولیکئ.

لار هواره کړه خوشحال چې پرې دپاسه
قدر دان د شاعرانو رحمان راغے
نه عرب نه ایراني او نه فرنګ شوم
په تیروار دُ خپلې ژبې ارمان راغے

یا

د عمل قوت پیدا کړئ په خپل ځان کښې
په خبرو خو قامونه نهٔ جوړېږي
انتشار نه ځان ساتئ چې دا پیدا شي
په جنګریز کښې بيا صفونه نهٔ جوړېږي

سوال5: په لاندینو عنواناتو کښې په یو باندې خوندوره قصه اولیکئ.

(۱) لالچ توره بلا ده (۲) د احسان بدله احسان
(۳) چې څهٔ کړې هغه به رېبې

(یا)

خپل هیډ ماسټر صیب/صیبې ته د فنډ معافي دپاره درخواست اولیکئ.

سوال6: د لاندیني عبارت په پښتو کښې ترجمه اوکړئ.

اندلس میں جس سائل کو تندرست اور کام کے لائق دیکھتے ہیں تو اس کو نہایت ذلیل اور سست کہتے ہیں۔ اس کا نتیجہ یہ ہے کہ یہاں اپاہج اور معذور آدمی کے سوا کوئی سائل نظر نہیں آتا۔ ہمارے ملک میں جس قدر بھکاری موجود ہیں پوری دنیا میں اس قدر نہیں ہیں۔

(یا)

په لاندینو کښې په یو باندې نوټ اولیکئ.

(۱) سیده قانته بیګم (۲) پریشان خټک (۳) غني خان

www.ilmkidunya.com